**د افغانستان اسلامي جمهوريت**
**د کابينې مصوبه**
**(۵) ګڼه**
**نېټه ۱۳۹۹/۲/۱۳**

د افغانستان اسلامي جمهوریت د ۱۳۹۹ کال کابینې پنځمه غونډه په فوق العاده توګه د جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني په مشرۍ د غوايي میاشتې په ۱۳ نېټه د شنبې ورځ له غرمې مخکې د کابینې غړو او ولایتونو والیانو په ګډون د ویډیويي کنفرانس له لارې په ارګ کې جوړه او دغه پرېکړې یې وکړې.

**د جلالتمآب ولسمشر پیلیزې خبرې او ځینې مهمې موضوع ګانې:**

- د هیواد دفاعي او امنیتي ځواکونو شهیدانو روح ته دعا او د هیواد د دفاع او د هیوادوالو امنیت ټینګښت له امله د هغوی ستاینه؛
- د کرونا ویروس د مبارزې په ډګر کې د عامې روغتیا وزارت رهبري، کارکوونکو او روغتیایي پرسونلو شپې او ورځې کراوونو ګاللو څخه مننه کول او د هغو شمیر کارکوونکو په درملنې، چې د کرونا په ویروس اخته شویدي د ځانګړې پاملرنې ټینګار؛
- په مرکز او ولایتونو کې د اړینو توکو د نانوایي ګانو له لارې د ډوډۍ ویش په ګډون د ټولو بشر- دوستانه مرستو مدیریت په موخه د اړونده مسؤلینو، والیانو او ښاروالانو په مرستي او همغږۍ ټینګار؛
- د بهرینو چارو او سوداګرۍ چارو وزارت سرپرستانو څخه دپاکستان هیواد سره په اوونۍ کې پنځه ورځې د سوداګریزو مالونو پرمخ د سپین بولدک او تورخم بندرونو خلاص ساتلو پوهاوي له امله مننه او د نورو بندرونو او په ځانګړې توګه د غلام خان بندر خلاصون په موخه د تفاهماتو په تداوم ټینګار؛
- د اقتصادي پراختیا، سوداګریزو او بیوزلي په چارو کې د ولسمشر- ځانګړي استازي، کابل والي او ښاروال څخه د خصوصي سکتور سره زیاتې همغږۍ ټینګیدو په موخه مننه کول؛
- له هغو سوداګرو او خصوصي سکتور څخه، چې د کرونا ویروس سره د مبارزې لپاره یې عامې روغتیا وزارت ته خپلې ودانۍ او جایدادونه په واک کې ورکړي دي او همدارنګه چې هیوادوالو ته یې د مرستې رسولو په برخه کې رغنده ونډه لرله مننه کول؛
- له هغو هیوادونو او نړیوالو مرسته کوونکو بنسټونو څخه چې د کرونا سره د مبارزې په ډګر کې یې افغانستان دولت سره هر اړخیزه مرسته کړې د قدرداني څرګندول؛

**د اجنډا لومړۍ موضوع:** د کرونا ویروس خپراوي مخنیوي بیړنۍ کمیټې اخیستل شوي ګامونو او وړاندیزونو راپور؛
**وړاندې کوونکې:** ښاغلی استاد سرور دانش د جمهوري ریاست دویم مرستیال او دکرونا ویروس خپراوي مخنیوي بیړنۍ کمیټې رئیس؛

| | **د کابینې پرېکړه :** | موده |
|---|---|---|
| ۱ - ۱ | د کرونا ویروس خپراوي د مخنیوي بیړنۍ کمیټې په څلورو ( کابل، هرات، کندهار او بلخ) ولایتونو کې په ګرځیدلو بندیز او محدودیت غځولو، د ملکي هوايي چلند استثنایي مواردو په پام کې نیولو سره له کابل څخه ولایتونو او برعکس یې د مسافرینو وړلو الوتنو درول(توقف)،هیواد لیرو پرتو سیمو کې خلکو ته د پوهاوي ورکړې او اطلاع رسولو په موخه د وزارتونو او ادارو مرسته، په یو وخت کې په مرکز او ولایتونو کې د بشر-پالنې مرستو ویش،په ولایتونو کې د روغتیايي ظرفیتونو پراخوالي او د مرستو لګښتونو څخه د اطلاع رسولو لړۍ چټکوالي وړاندیزونه تصویب دي؛ د کرونا ویروس خپراوي مخنیوي بیړنۍ کمیټې ته دنده سپارل کیږي، چې د اړونده ادارو او ولایتي کمیټو په مرسته یې د پلي کولو په اړه ګامونه واخلي. | د کرونا ویروس له منځه تلو پورې |
| ۱ - ۲ | د هیوادوالو اړینو کړنو او خدمتونو وړاندې کولو ته په کتو او د کرونا (کوویډ ۱۹) ویروس خپریدو مخنیوي په موخه د کاري رژیم تنظیم کړنلارې (۱) ګڼه ضمیمې په پام کې نیولو سره په مرکز کې د دولتي ادارو او د کابل مرکز او ولایتونو کې د دولتي او خصوصي ښوونځیو، پوهنتونونو، لوړو زده کړو دولتي او خصوصي مؤسساتو رخصتیو غځول د روژې مبارکې میاشتې ترپایه تصویب دي؛ کمیټې او اداري دې پریکړې سره سم کړنې ترسره کړي. | د روژې مبارکې میاشتې ترپایه |

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۱ - ۳ | سیمه ییزو ارګانونو ادارې ته دنده سپارل کیږي، چې د نفوسو او کرونا ویروس احتمالي خطرونو ته په کتو سره بیوزله خلکو ته د مرستو وېش څرنګوالي بحث په موخه د ولایتونو والیانو سره د ویډیو کنفرانس له لارې د حکومت رهبرۍ ځانګړې غونډه تنظیم او جوړه کړي. | عاجل |
| ۱ - ۴ | د اقتصادي پراختیا، سوداګریزو او بیوزلې په چارو کې د ولسمشر ځانګړي استازي ته دنده سپارل کیږي، چې بیوزله خلکو ته د مرستو وېش څرنګوالي په اړه له خصوصي سکتور سره پوهاوی وکړي او راپور یې جمهوري ریاست لوړ مقام ته وړاندې کړي. | یوه اونۍ |
| ۱ - ۵ | مالیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د برېښنا شرکت غوره رهبرۍ او مدیریت په موخه مشخص وړاندیز جمهوري ریاست لوړ مقام ته وړاندې او د افغانستان برېښنا شرکت سره په همغږۍ د پورونو څرنګوالي ته په کتو سره د قرنطین میاشتو کې د خلکو لخوا په قسطونو د برېښنا لګښت بل ورکړې په اړه د کرونا ویروس خپراوي مخنیوي بیړنۍ کمیټې وړاندیز لومړی مطالعه او راپور یې د حکومت رهبرۍ ته وړاندې او د اړتیا په صورت کې دې اقتصادي عالي شورا غونډې ته وړاندې کړي. | یوه اونۍ |
| ۱ - ٦ | سیمه ییزو ارګانونو ادارې ته دنده سپارل کیږي، چې د ولایتونو والیانو په مرسته د کرونا ویروس ته ځانګړې شوې بودجې لګښتونو څرنګوالي په اړه هره اونۍ خلکو ته معلومات وړاندې کړي او بودجوي مستقیم واک دې د یو موډل په توګه په بریالیتوب سره ورسوي. | د کرونا ویروس له منځه تللو پورې |

**د اجنډا دویمه موضوع:** ( په افغانستان کې د کرونا ویروس خپریدو څخه را پیدا شویو مالي او اقتصادي اغیزو له امله) د ۱۳۹۹ مالي کال بودجې د تعدیلاتو طرحه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د مالیې وزارت سرپرست

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۱ - ۲ | د ۱۳۹۹ مالي کال بودجې د تعدیلاتو طرحه په لاندې توګه تائید ده؛ مالیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې په پارلماني چارو کې د دولت وزارت په مرسته د بیړې (استعجالیت) او هیواد اړتیاوو ته په کتو سره ژر تر ژره د پړاوونو تیرولو په اړه ګامونه واخلي.<br>- له تعدیلاتو وروسته د ۱۳۹۹ مالي کال بودجې چتر (۴۴۹۴۰٦۹۵۲۷۹۵) څلور سوه نهه څلویښت میلیارده، څلور سوه شپږ میلونه، نهه سوه دوه پنځوس زره اووه سوه پنځه نوي افغانۍ، د هغه له ډلې عادي بودجه (۲۹۵٦۳۱٦۳۷۰۳۷) دوه سوه پنځه نوي میلیارده، شپږ سوه یو دیرش میلونه، شپږ سوه اووه دیرش زره او اووه دیرش افغانۍ او پرمختیایي بودجه (۱۵۳۷۷۵۳۱۵۷۵۸) یو سلو او دری پنځوس میلیارده، اووه سوه پنځه اویا میلونه، پنځه سوه یو دیرش زره، دری سوه پنځلس زره اووه سوه اته پنځوس افغانۍ.<br>- د ادارو له عادي بودجې څخه (۳۳۱۸۲۵۹۳۰۳) دری میلیارده، دری سوه اتلس میلونه، دوه سوه نهه پنځوس زره دری سوه او دری افغانۍ تنقیص، چې د هغه له ډلې د ۲۲ ( جنسونو او خدمتونو) کوډ څخه (۲٦۵۴۴۰۷۰۹۸) دوه میلیارده،شپږ سوه څلور پنځوس میلونه، څلور سوه اووه زره او اته نوي افغانۍ او د ۲۵ ( شتمنیو کسب) کوډ څخه (٦٦۳۸۵۲۲۰۵) شپږ سوه دری شپیته میلونه، اته سوه دوه پنځوس زره دوه سوه او پنځه افغانۍ دي.<br>- د عادي بودجې احتیاطي کوډونو څخه (۳۲۰۰۰۰۰۰۰) دری سوه شل میلونه افغانۍ؛<br>- د ادارو پرمختیایي اختیاري پروژو څخه (۱٦۳۲۱۴۳۳۳۳)یو میلیارد، شپږ سوه دوه دیرش میلونه، یو سلو دری څلویښت زره دری سوه دری دیرش افغانۍ؛<br>- د پرمختیایي بودجې احتیاطي کوډونو څخه (۱۲۲۴۹۴٦۰۰) یو سلو او دوویشت میلونه، څلور سوه څلور نوي زره شپږ سوه افغانۍ؛<br>- له تعدیلاتو وروسته په ټولیزه توګه د بودجې تمویل (۴۰۱۲۸۳۵۳۹۹۱۹) څلور سوه یو میلیارد، دوه سوه دری اتیا میلونه،پنځه سوه نهه دیرش زره نهه سوه نوولس افغانۍ؛ چې د هغه له ډلې د کورنیو عوایدو څخه (۱۷۵۸۰۰۰۰۰۰۰) یو سلو پنځه اویا میلیارده، اته سوه میلونه افغانۍ او له بهرنیو | عاجل |

Administrative Office of the President

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| | سرچینو څخه (۲۲۵۴۸۳۵۳۹۹۱۹) دوه سوه پنځه ویشت میلیارده، څلور سوه دری اتیا میلیونه، پنځه سوه نهه دیرش زره، نهه سوه نوولس افغانۍ؛<br>- د بودجې پیشبیني شوی کسر (۴۸۱۲۳۴۱۲۸۷۶) اته څلویښت میلیارده، یو سلو او درویشت میلیونه، څلور سوه دوولس زره اته سوه شپږ اویا افغانۍ؛<br>- د پیسو نړیوال وجهي صندوق پور په وسیله د ملي بودجې کسرتمویل وروسته بیلانس، د خزائینو ریزرفي پیسې او هغه پیسې چې د تمویل کوونکي له لوري بیرته ګرځول کیږي( Retroactive Financing) (۸۹۷۶۵۸۷۱۲۴) اته میلیارده، نهه سوه شپږ اویا میلونه، پنځه سوه اووه اتیا زره یو سلو او څلورویشت افغانۍ د بودجې مازاد دی. | |
| ۲ - ۲ | وزارتونو او دولتي ادارو ته دنده سپارل کیږي چې د خپلو پرمختیایي پروژو پرمختګ څرنګوالي اوونیز راپور ماليې وزارت ته وړاندې کړي؛ مالیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د وزارتونو او دولتي ادارو را رسیدلي راپورونه له توحید وروسته د کابینې ځانګړې غونډې ته وړاندې کړي. | یو نیمه میاشت |

**د اجنډا دریمه موضوع:** د عدلیې وزارت قانون جوړونې، علمي او حقوقي څېړنو انستیتوت ۱۳۹۸ کال کړنو راپور او د ۱۳۹۹ کال تقنیني کار پلان؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عدلیې وزیر؛

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۳ - ۱ | د عدلیې وزارت قانون جوړونې، علمي او حقوقي څېړنو انستیتوت ۱۳۹۸ کال کړنو راپور او ۱۳۹۹ کال تقنیني کار پلان تصویب ده؛ عدلیې وزارت دې پریکړې سره کړنې ترسره کړي. | - |
| ۳ - ۲ | عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې په مسلکي او تخصصي- توګه د پښتو قوانینو، مقرراتو او ټولو تقنیني سندونو چمتو کولو او لیکلو په اړه ګامونه واخلي او لازم ظرفیتونه رامنځته کړي. | دوامدار |
| ۳ - ۳ | د قانون جوړونې انستیتوت د اجرائیه کمیټې او یو شمیر محدودو غړو لپاره د اضافه کاري وړاندیز، چې له وخت وروسته په تقنیني سندونو کار کوي، عدلیې وزارت وړاندیز شوي متن سره سم تصویب ده؛ عدلیې وزارت دې د مالیې وزارت په مرسته کړنې ترسره کړي. | یوه میاشت |
| ۳ - ۴ | اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون ته دنده سپارل کیږي، چې د عدلیې وزارت په مرسته د دولت بنسټیزو تشکیلاتو قانون طرحې پړاوونو تیرولو په موخه لومړی لازمه تګلاره جوړه د نهایي کیدو او بحث په موخه دې د جمهوري ریاست لوړ مقام ځانګړې غونډې ته وړاندې کړي. | څلور میاشتې |
| ۳ - ۵ | سیمه ییزو ارګانونو ته دنده سپارل کیږي، چې د کلیو حقوقي تعریف، د ولسي- ترون شوراګانو ځای، له دومي واحدونو سره د وزارتونو اړیکې، له والیانو سره د ولایتي رئیسانو اړیکې ډول، والیانو او مرکزي ادارو ته د ولایتي رئیسانو راپورونو وړاندې کولو څرنګوالي ته په کتو سره د سیمه ییزو ارګانونو تګلارې په بنسټ د سیمه ییزو ارګانونو قانون طرحې بیا ځلې کتنه ترسره او د پړاوونو تیرولو په اړه یې ګامونه واخلي. | څلور میاشتې |
| ۳ - ۶ | عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د جمهوري ریاست دویم مرستیال تر نظر لاندې د مهمو تقنیني سندونو او په ځانګړي توګه د اساسي قانون بشپړونکو سندونو ته لومړیتوب ورکړي او د تقنیني سندونو پړاوونو تیرولو قانون په بنسټ د تقنیني سندونو پړاوونو تیرولو معیاد ټاکلو په موخه له چیک لست سره یو ځای د روښانه او مقرري نهایي کیدو بهیر چټکوالي لاربود چمتو او پلې کوي. | یوه میاشت |

**د اجنډا څلورمه موضوع:** د UNESCO، GPE، ECW او ISESCO بنسټونو څخه د مرستې ترلاسه کولو منظوري په اړه د پوهنې وزارت غوښتنه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د پوهنې سرپرست وزیر؛

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۴ | د UNESCO، GPE، ECW او ISESCO بنسټونو څخه د مرستې ترلاسه کولو منظوري په اړه د پوهنې وزارت غوښتنه تصویب ده؛ پوهنې وزارت دې پریکړې سره کړنې ترسره کړي. | |

**د اجنډا پنځمه موضوع:** د جنوبي کوريا هيواد Global Living Sharing شرکت څخه د درملو او طبي لوازمو په ګډون مرستو ترلاسه کولو او د ياد توکو مالياتي معافيت منظوري په اړه د عامې وزارت غوښتنه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عامې روغتيا وزير؛

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۵ - ۱ | د جنوبي کوريا هيواد Global Living Sharing شرکت څخه د درملو او طبي لوازمو په ګډون مرستو ترلاسه کولو او د ياد توکو مالياتي معافيت منظوري په اړه د عامې وزارت غوښتنه تصويب ده؛ عامې روغتيا وزارت دې د پريکړې سره سم کړنې ترسره کړي. | - |
| ۵ - ۲ | ۱.۱.ج کابينې د عامې روغتيا وزير غوښتنې په اړه ، چې ماليې وزارت ته د هغه طبي لوازمو او توکو، چې د نړيوالو بنسټونو له لورې د کرونا ويروس سره د مبارزې په موخه يې مرسته کيږي، د مالياتي معافيت واک سپارلو منظوري او د هغو درملو، اشيا او طبي لوازمو، چې هيواد سره يې مرسته کيږي؛تر (۳۰۰۰۰۰۰) درې ميلونه ډالرو معادل ارزښت ولري د ګمرکي محصول معافيت، تعرفې او نور مالياتو منظوري د ماليې وزير په وسيله تصويب ده. | د کرونا ويروس له منځه تللو پورې |
| ۵ - ۳ | ماليې وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې کرونا ويروس سره د مبارزې په پار د هيوادونو او مرسته کوونکو بنسټونو مرستو راټولولو په موخه يو بانکي حساب جوړ او د بهرنيو چارو وزارت د ترلاسه شويو مرستو کوروداني ويلو ترڅنګ ملګرو هيوادونو د ډيرو مرستو راجلبولو په اړه پوهاوی وکړي. | عاجل |

**د اجنډا شپږمه موضوع:** د کوويډ - ۱۹ سره د مبارزې د بشري سرچينو پلان او ګمارلو لارښود؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عامې روغتيا وزير؛

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۶ | د کوويډ -۱۹ سره د مبارزې د بشري سرچينو پلان او ګمارلو لارښود د تحصيلي سندونو لرلو په اړه د دوه ژمنليکونو تنظيم او د ګمارل شوي کس لخوا د مسلکی او اداري شرايطو نه ماتولو په زياتوالي سره تصويب ده؛ عامې روغتيا وزارت د لازم پوهاوي ورکولو ترڅنګ د پريکړې سره سم کړنې ترسره کړي. | - |

**د اجنډا اوومه موضوع:**دکانونو او پټروليم وزارت د کارکوونکو ساحوي کړنو امتياز مقررې طرحه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عدليې وزير؛

موخې: د کانونو او پټروليم وزارت د کارکوونکو ساحوي کړنو د امتياز اندازې ټاکنه، د نفتو او ګازو او کانونو برخه کې د ساحوي کړنو ترسره کولو ته د کانونو او پټروليم وزارت کارکوونکو هڅونه، د نفتو او ګازو او کانونو په برخه کې د کارکوونکو لپاره د ساحوي کړنو امتياز ورکړې دلازمو حالتونو په ګوته کول او تثبيتول.

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۷ | دکانونو او پټروليم وزارت د کارکوونکو ساحوي کړنو امتياز مقررې طرحه تصويب ده؛ عدليې وزارت دې د خپرولو پړاوونو تيرولو او نافذيدو په اړه ګامونه واخلي. | دوه اوونۍ |

**د اجنډا اتمه موضوع:**د اوسپنې پټلۍ په تم ځای کې د واګونونو درولو مقررې طرحه ؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عدليې وزير؛

موخې:د اوسپنې پټلۍ په تم ځای کې د واګونونو تنظيم،د بار منظمول او درول، د ليکو ظرفيتونو څخه د ګټې اخيستنې معقولې زمينې چمتو کول،د واګونونو په خپل وخت بارولو او خالي کولو په موخه په تم ځايونو کې د اسانتياو، تجهيزاتو او نورو امکاناتو چمتو کول او د اوسپنې پټلۍ په تم ځای کې د خوندي او زيانونو را کمولو شرايطو تامين؛

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۸ | د اوسپنې پټلۍ په تم ځای کې د واګونونو درولو مقررې طرحه په اصولو کې تصويب ده؛ عدليې وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د ټرانسپورټ وزارت په مرسته د ځلورمې مادې سمولو، په ۱۷ او ۲۴ مادو کې ټکر له منځه وړلو او وضاحت او د هغو شرکتونو لپاره، چې مخکې يې پانګه اچونه کړې د وضع شويو شرطونو سره سم د انتقالي حکمونو تنظيم ته په کتو طرحه سمه د خپرولو پړاوونو تيرولو او نافذيدو په اړه ګامونه واخلي. | دوه اوونۍ |

**د اجنډا نهمه موضوع:** د هیواد ولایتونو والیانو په استازیتوب د پکتیا والي په خبرو او وړاندیزونو تصمیمونه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د پکتیا والي؛

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۹ - ۱ | پوهنې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د عامې روغتیا وزارت او سیمه ییزو ارګانونو ادارې په مرسته د هیواد په ولایتونو ولسوالیو او لیرو کلیو کې د کرونا ویروس څخه د را پیدا شویو خطرونو په اړونده خلکو ته اطلاع رسولو او د عامه پوهاوي په موخه د ښوونځیو ښوونکو له لارې د ولسي-ترون برنامې سره په همغږې ګامونه واخلي. | عاجل |
| ۹ - ۲ | سیمه ییزو ارګانونو ادارې ته دنده سپارل کیږي، چې ښار جوړولو او ځمکو وزارت، د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې او نور اړونده ادارو په مرسته د مشخص چمتو شوي پلان، د مستحقینو تشخیص او تثبیتولو، د ویش ځرنګوالي او د هغوی لخوا د ودانیو جوړولو ژمنې، په ښارګوټو کې د تولنیزو پیوندونو اړیکو او خصوصي سکتور پانګه اچونې ځرنګوالي ته په کتو سره د هیواد په ولایتونو کې د ښوونکو او کډوالو لپاره په ښارګوټو کې د ځمکې نمرو عادلانه ویش په موخه روښانه کړنلاره جوړه او د ښاري پراختیا عالي شورا ته دې وړاندې کړي. | درې میاشتې |
| ۹ - ۳ | د چارو ادارې لوی ریاست ته دنده سپارل کیږي، چې د سیمه ییزو ارګانونو ادارې، اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون او عدلیې وزارت په مرسته د اړتیا تشخیص او لومړیتوبونو ته په کتو سره ولایتونو ته د وزارتونو او دولتي ادارو پلاوي لیږلو کړنلاره جوړه او د جمهوري ریاست لوړ مقام له تائید وروسته ته دې وړاندې او پلې کړي. | دوه میاشتې |
| ۹ - ۴ | د ملي امنیت مشاوریت دفتر ته دنده سپارل کیږي، چې د جمهوري ریاست لومړی مرستیال دفتر په مرسته په مرکز او ولایتونو کې د نظامي عملیاتو تنظیم او ترسره کولو په اړه د ملي شورا غړو اقداماتو په ګډون د غیر مسؤولو کسانو او افرادو د لاسوهنې مخنیوي په موخه یو میکانیزم جوړ او تصمیم نیونې په موخه دې ملي امنیت شورا ته وړاندې کړي. | یوه میاشت |

**د اجنډا لسمه موضوع:** د مصنوعي تنفسي- ماشین(Ventilator) جوړولو په اړه د کابل پوهنتون طبي علومو- ابوعلي ابن سینا کمیونتي کالج نوښت او خلاقیت راپور؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د لوړو زده کړو سرپرست وزیر؛

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۱۰ - ۱ | د ا.ا.ج کابینې د مصنوعي تنفسي- ماشین(Ventilator) جوړولو په اړه د کابل پوهنتون طبي علومو- ابوعلي ابن سینا کمیونتي کالج نوښت او خلاقیت تود هرکلي ترځنګ؛ د لوړو زده کړو وزارت راپور تائید او کمیونتي کالج تیم هڅونې په اړه د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وړاندیز تصویب کړ او نوموړي ته یې دنده وسپارله، چې د کمیونتي کالج غړو لپاره د لومړي او دویمې درجې تقدیر لیک وړاندیز چمتو او د جمهوري ریاست لوړ مقام ته دې وړاندې کړي. | دوه اوونۍ |
| ۱۰ - ۲ | د اقتصادي پراختیا، سوداګریزو او بیوزلي په چارو کې د ولسمشر- ځانګړي استازي دفتر ته دنده سپارل کیږي، چې د سوداګرۍ او صنعت، لوړو زده کړو او عامې روغتیا وزارتونو په مرسته د کابل پوهنتون طبي علومو- ابوعلي ابن سینا کمیونتي کالج تیم په وسیله د مصنوعي تنفسي- جوړ شوي ماشین تولید ځرنګوالی په اړه له خصوصي سکتور سره پوهاوی وکړي. | عاجل |
| ۱۰ - ۳ | لوړو زده کړو وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د عدلیې او مالیې وزارتونو، د تخنیکي او مسلکي زده کړو ملي ادارې او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون په مرسته او همغږې د ګډ پوهاوي لیک په چوکاټ کې د پوهنتونونو په چوکاټ کې د کمیونتي کالج د کړنو تداوم په موخه د مالي مسایلو حل، د فراغت سند ویش، د هغوی حقوقو او امتیازاتو، حقوقي اړخونو او د کمیونتي کالج نور د اړتیا وړ امکاناتو په اړوند کره وړاندیز د کابینې نورو غونډو ته وړاندې کړي. | یوه میاشت |



Administrative Office of the President

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۱۰ - ۴ | د عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د مصنوعي تنفسي ماشین جوړولو په اړه د افغانستان رباتیک نجونو ټیم اخیستل شوي گامونه او نوښت همتر څیړنې او کتنې لاندې نیسي او راپور یې جمهوري ریاست لوړ مقام ته وړاندې کوي. | یوه میاشت |

**د اجنډا یوولسمه موضوع:** د صنعتي پارکونو، هوایي ډگرونو، د برېښنا سب سټیشنونو، د ورزشي سټډیوم او محکمو او څارنوالي ودانیو جوړولو په گډون (۲۱) مواردو دولتي ځمکو څخه د گټې اخیستنې حق لیږدونې غوښتنې؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د ښار جوړولو او ځمکو وزارت سرپرست؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۱۱ | د ښار جوړلو او ځمکو وزارت وړاندیزونه د لاندې دولتي ځمکو د گټې اخیستنې حق لیږدونې په اړه تصویب دي؛<br>۱۱ - ۱ د (۳۱۱۱۱۷۹۰۰۰) درې میلیارده، یو سلو او یوولس میلونه، یو سلو او نهه اویا زره افغانیو ارزښت په بدل کندهار ولایت کې د شوراندام صنعتی پارک جوړولو په موخه سوداگرۍ او صنعت وزارت ته (۳۶۵۷,۱۱) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛<br>۱۱ - ۲ د (۹۰۰۰۰۰۰۰)نهه سوه میلیونه افغانیو ارزښت په بدل کندهار ولایت کې د کرنیزو صنعتي پارکونو جوړولو په موخه د سوداگرۍ او صنعت وزارت ته د (۱۰۰۰) زر جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛<br>۱۱ - ۳ د (۵۰۰۰۰۰۰۰۰)پنځه میلیارده افغانیو ارزښت په بدل خوست ولایت کې د هوایي ډگر جوړولو په موخه ترانسپورټ وزارت ملکی هوایي چلند ادارې ته د (۱۰۰۰۰) لس زره جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛<br>۱۱ - ۴ د (۳۱۳۳۵۰۰۰) یو دیرش میلونه، درې سوه پنځه دیرش زره افغانیو ارزښت په بدل جوزجان ولایت کې د هوایي ډگر جوړولو په موخه ترانسپورټ وزارت ملکی هوایي چلند ادارې ته(۴۱۷۸) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛<br>۱۱ - ۵ د (۳٤۱۰۰۰۰۰۰) درې سوه یو څلویښت میلونه افغانیو ارزښت په بدل نیمروز ولایت چگیني سیمه کې هوایي ډگر جوړولو په موخه ترانسپورټ وزارت ملکی هوایي چلند ادارې ته (۶۸۲۰) شپږ زره اته سوه شل جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛<br>۱۱ - ۶ د (٤۲۰۰۰۰)څلور سوه شل زره افغانیو ارزښت په بدل جوزجان ولایت خماب ولسوالی کې د برېښنا سب سټیشن جوړولو په موخه برېښنا شرکت ته د (۷) اووه جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛<br>۱۱ - ۷ د (۶۰۵۳۶۲۵) شپږ میلونه او درې پنځوس زره، شپږ سوه پنځه ویشت افغانیو ارزښت په بدل لغمان ولایت مرکز کې د برېښنا سب سټیشن جوړولو په موخه برېښنا شرکت ته د (۴۰) پنځوس جریبه، (۷) اووه بسوې او (۳) درې بسواسې دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛<br>۱۱ - ۸ د (۳۰۶۲۲۵۰۰۰) دیرش میلونه، شپږ سوه پنځه ویشتزره افغانیو ارزښت په بدل په کنړ ولایت اسعد آباد ښار کې د برېښنا سب سټیشن جوړولو په موخه برېښنا شرکت ته د (۳۰) دیرش جریبه،(۱۲) دوولس بسوې او (۱۰) بسواسې دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛<br>۱۱ - ۹ د (٤۲۰۰۰۰) څلور سوه شل زره افغانیو ارزښت په بدل جوزجان ولایت قرقین ولسوالی کې برېښنا | څلور میاشتې |

| د کابينې پريکړه : | موده |
|---|---|
| | |

سب ستيشن جوړولو په موخه د بريښنا شرکت ته د (۷) اووه جريبه دولتي ځمکې څخه د ګټه اخيستنې حق ليږدونه؛

۱۱ - ۱۰ د (۴۰۰۰۰۰) څلور سوه زره افغانيو ارزښت په بدل په باميان ولايت شيبر ولسوالۍ کې د لومړنۍ محکمې ودانۍ جوړولو په موخه د سترې محکمې ته د (۱) يو جريب دولتي ځمکې څخه د ګټه اخيستنې حق ليږدونه؛

۱۱ - ۱۱ د (۷۶۰۰۰۰)اووه سوه اويا زره افغانيو ارزښت په بدل بغلان ولايت پلخصار، جلګه او بنو اندراب ولسواليو کې د لومړنۍ محکمې ابتدائيه رياستونو جوړولو په موخه د سترې محکمې ته د (۳) درې جريبه دولتي ځمکې څخه د ګټه اخيستنې حق ليږدونه؛

۱۱ - ۱۲ د (۶۴۳۵۰۰)شپږ سوه درې څلويښت زره افغانيو ارزښت په بدل د پکتيا ولايت ډنډې پټان ولسوالۍ کې د لومړنۍ محکمې ودانۍ جوړولو په موخه سترې محکمې ته (۱۱۷۰) يوولس سوه اويا متره مربع ځمکې او (۳۷۱۲۵۰) درې سوه يو اويا زره دوه سوه پنځوس افغانيو ارزښت په بدل کې پکتيا ولايت ميرزکې ولسوالۍ کې د لومړنۍ محکمې ودانۍ جوړولو په موخه سترې محکمې ته د (۱۳۵۰) متره مربع دولتي ځمکې څخه د ګټه اخيستنې حق ليږدونه؛

۱۱ - ۱۳ د (۶۰۰۰۰۰۰) شپږ ميلونه افغانيو ارزښت په بدل په بغلان ولايت جنجان ولسوالۍ کې لومړنۍ محکمې ودانۍ جوړولو په موخه د سترې محکمې ته د (۱) يو جريب دولتي ځمکې څخه د ګټه اخيستنې حق ليږدونه؛

۱۱ - ۱۴ د (۱۱۵۵۰۰۰۰) يوولس ميلونه پنځه سوه پنځوس زره افغانيو ارزښت په بدل په کندز ولايت کې د استيناف محکمې ودانۍ جوړولو په موخه سترې محکمې ته د (۱۱) يوولس جريبه (۱۱) بسوې دولتي ځمکې څخه د ګټه اخيستنې حق ليږدونه؛

۱۱ - ۱۵ د(۹۷۹۹۹۹,۵) نهه سوه نهه اويا زره نهه سوه نهه نوي اعشاريه پنځه افغانيو د ارزښت په بدل په پکتيا ولايت احمدخيل او لجه منګل ولسواليو کې د محکمو ودانيوجوړولو په موخه سترې محکمې ته د (۳۵۰۰) درې زره پنځه سوه متره مربع دولتي ځمکې څخه د ګټه اخيستنې حق ليږدونه؛

۱۱ - ۱۶ د (۵۰۰۰۰۰) پنځه سوه زره افغانيو ارزښت په بدل په لغمان ولايت عليشنګ ولسوالۍ کې د لومړنۍ ښاروالي ودانۍ جوړولو په موخه د لويې ښاروالي ته د (۱) يو جريب دولتي ځمکې څخه د ګټه اخيستنې حق ليږدونه؛

۱۱ - ۱۷ د (۴۵۰۰۰۰) څلور سوه پنځوس زره افغانيو ارزښت په بدل په پکتيا ولايت سيدکرم ولسوالۍ کې د لومړنۍ ښاروالي ودانۍ جوړولو په موخه د لويې ښاروالي ته د (۱۸۰۰) اتلس سوه متره مربع دولتي ځمکې څخه د ګټه اخيستنې حق ليږدونه؛

۱۱ - ۱۸ د (۵۰۰۰۰۰) پنځه سوه زره افغانيو ارزښت په بدل په سرپل ولايت سانچارک ولسوالۍ کې د لومړنۍ ښاروالي ودانۍ جوړولو په موخه د لويې ښاروالي ته د (۱) يو جريبه دولتي ځمکې څخه د ګټه اخيستنې حق ليږدونه؛

۱۱ - ۱۹ د (۴۰۲۰۰۰) څلور سوه شل زره افغانيو ارزښت په بدل په سمنګان ولايت فيروز نخچير او حضرت سلطان ولسواليو کې د لومړنۍ ښاروالي ودانيو جوړولو په موخه لويې ښاروالي ته د (۲) جريبه او (۱۴)

Administrative Office of the President

| | د کابینې پریکړه : | موده |
|---|---|---|
| | بسوې دولتي ځمکې څخه د ګټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |
| ۱۱ - ۲۰ | د (۷٦٤۱۰۰۰۰) شپږ اویا میلونه، څلور سوه لس زره افغانیو ارزښت په بدل دارالامان دېنبې چنجیو روزلو دویم نمبر فارم اړونده ځمکه او ایسا اداري ځمکه دلویې څارنوالي ودانیو جوړولو په موخه لویې څارنوالي ته د (۵۰۹۴) پنځه زره او څلور نوي متره مربع جریبه دولتي ځمکې څخه د ګټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |
| ۱۱ - ۲۱ | د(٥٤٦٣٠٠٠٠٠) پنځه سوه شپږ څلویښت میلونه او درې سوه زره افغانیو ارزښت په بدل په ننګرهار ولایت بهسودو ولسوالۍ کې د کرکټ ورزشي سټدیوم جوړولو په موخه د افغانستان کرکټ بورډ ته د (۲۷) جریبه، (٦) بسوې، (٦) بسواسې دوه جریبه دولتي ځمکې څخه د ګټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |
| | د ښار جوړولو او ځمکو وزارت ته دنده سپارل کیږي، تر څو پورته یادې شوې ځمکې چې د عامه ګټه اخیستنې پروژو د پلي کیدو او یا د عامه ودانیو د جوړولو لپاره لیږدول کیږي لومړی د ځمکې دولتي بانک کې ثبت او د دولتي ځمکو له ډلې څخه یې د عامه ځمکو په شمیر کې ور زیاتې کړي. | |

**د اجنډا دوولسمه موضوع:** بیلابیلې پریکړې:

| | د کابینې پریکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۱۲ - ۱ | د ملي امنیت مشاوریت دفتر ته دنده سپارل کیږي، چې جمهوري ریاست لومړی مرستیال تر نظر لاندې د هیواد امنیتي او دفاعي ځواکونو اعاشې موضوع څرنګوالي تر څیړنې لاندې نیسي او د هغوی لپاره د مناسبې او د اړتیا وړ کالرۍ زمینې برابرولو په اړه هر اړخیز ګامونه اخلي. | عاجل |
| ۱۲ - ۲ | بهرنیو چارو او سوداګرۍ او صنعت وزارتونو ته دنده سپارل کیږي، چې د هیواد اوسني روغتیایي بیړني شرایطو ته په کتو سره د پاکستان هیواد مسؤلینو سره د ټرانزیټ پرمخ د هیواد بندرونو په ځانګړې توګه غلام خان بندر خلاصولو تفاهم وکړي. | عاجل |
| ۱۲ - ۳ | د جمهوري ریاست لومړی مرستیال دفتر ته دنده سپارل کیږي، چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دفتر له لوري د تجهیزاتو او طبي وسایلو تدارک څرنګوالي راپور را وغواړي او له توحید وروسته یې جمهوري ریاست لوړ مقام ته وړاندې کړي. | عاجل |
| ۱۲ - ۴ | د چارو اداري لوی ریاست ته دنده سپارل کیږي، چې د عامې روغتیا وزارت په مرسته په مرکز او ولایتونو کې روغتونو ته د اړتیا او خطر کچې په پام کې نیولو سره د ملي پراختیا شرکت په وسیله د (۲۷۰۰۰) اووه ویشت زره چمتو شویو چپرکټونو عادلانه ویش طرحه جوړه او پلې کړي. | عاجل |
| ۱۲ - ۵ | عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د ملي پراختیا شرکت په مرسته ژر تر ژره د هغو ولایتي روغتونونو لړلیک (فهرست)، چې د جوړولو چارې یې تراوسه نه دي بشپړې شوې، جوړ او له کتنې او څیړنې وروسته دې د یادو روغتونونو کار بشپړتیا په موخه د ملي پراختیا شرکت له لارې د کار لیږدونې وړاندیز چمتو او د جمهوري ریاست لوړ مقام ته دې وړاندې کړي. | یوه میاشت |
| ۱۲ - ٦ | عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې دوو اونیو په اوږدو کې د کرونا سره د مبارزې وضعیت، په روغتونونو کې د بنسټیز بدلون څرنګوالي د روغتیایي پروګرام او وړاندې کولو څرنګوالي په اړه تفصیلي راپور جمهوري ریاست لوړ مقام ته وړاندې کړي. | دوه اونۍ |
| ۱۲ - ۷ | عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د شته مرکزونو ظرفیت او په کرونا ویروس ککړو ناروغانو د ګوښه ساتلو په موخه د اړتیا وړ مرکزونو په اړوند هر اړخیز راپور چمتو او د جمهوري ریاست لوړ مقام ته دې وړاندې کړي. | عاجل |

| د کابینې پریکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۱۲ – ۸ | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسون ته دنده سپارل کیږي، چې د چارو اداري لوی ریاست په مرسته د پالیسي جوړولو او اجرئیوي نقش تفکیک،د دندو لایحو ارزونې، د کاري مصونیت څرنګوالي، د حکومت رهبري او پارلمان ته د ځواب ویلو څرنګوالي ته په کتو سره د ادارو وزیرانو او مرستیالانو د دندو واکونو روښانه تفکیک طرحه او راپور جوړ او له توحید وروسته دې جمهوري ریاست لوړ مقام ته وړاندې کړي. | دوه میاشتې |
| ۱۲ – ۹ | اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسون ته دنده سپارل کیږي، چې د تشکیلات پرسوب او دندو کې د لاسوهنې مخنیوي په موخه د وزارتونو او دولتي ادارو تشکیل تر څیړنې لاندې نیسي- او خپل وړاندیزونه جمهوري ریاست لوړ مقام ته وړاندې کوي. | څلور میاشتې |
| ۱۲ – ۱۰ | د ملي تدارکاتو اداري ته دنده سپارل کیږي، چې ملي تدارکاتو ته د ټولو دولتي ادارو را رسیدلو سندونو روښانه لړلیک(فهرست) د را رسیدو نیټې سره یو ځای د یو جدول په ترڅ کې جوړ او د جمهوري ریاست لوړ مقام ته دې وړاندې کړي. | دوه اوونۍ |
| ۱۲ - ۱۱ | د کانونو او پټرولیم وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د سوداګرۍ او صنعت وزارت او افغانستان بریښنا شرکت په مرسته په جوزجان ولایت کې د ګاز را ایستلو کچې ډیروالي څرنګوالی او له هغه څخه د بریښنا انرژي تولید څرنګوالی د بیات او عضنفر شرکتونو سره څیړي او تفاهم کوي؛ راپور یې د جمهوري ریاست لوړ مقام ته وړاندې کوي. | دوه میاشتې |

- د مصوبې پلي کېدو څخه څارنه د جمهوري ریاست چارو اداري لوی ریاست د کابینې چارو سمون ریاست په غاړه ده.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**